DAILY
اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۷۵۹

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ل

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

PROPERTY OF ACKU

لسم کال - دويمه دوره، ۷۵۹ مه ګڼه، پر له پسې ۱۸۲٦ ګڼه، د ۱۳۸۹ ل ـ د غوايي لومړی- د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الاول ۷ مه د ۲۰۱۰ د اپريل ۲۱ مه

ربوده شدن هشت کارمند یک شرکت سرک سازی در کندز

هشت تن ازکارمندان یک شرکت سرک سازی زمانی ازمربوطات ولایت کندز ربوده شدند که مصروف اعمار یک پل در مربوطات این ولایت بودند. محبوب الله سعیدی سخنگوی والی کندزمی گوید: "این افراد دیروز از قریهٔ عمرخیل ولسوالی علی آباد این ولایت ربوده شده اند."

به اساس گفته های سخنگوی والی کندز در میان افراد ربوده شده، یک تبعهٔ پاکستانی نیزموجود می باشد که برای شرکت سرک سازی کریم شریفی کارمی کرد. سخنگوی والی کندز می گوید : "افراد یاد شده از سوی طالبان مسلح ربوده شده و به منطقهٔ نامعلومی **ص۳**

انتخابات بر مبنای کدام قانون برگزار می شود؟

در حالی که مراحل مقدماتی برگزاری انتخابات پارلمانی آغاز گردیده و روی همین منظور، کمیسیون انتخابات کشور دیروز ثبت نام نامزدان انتخابات پارلمانی را در سراسر افغانستان آغاز کرد، ولی هنوز معلوم نیست که این انتخابات بر اساس کدام قانون، قانون آقای کرزی و یا قانونی را که ولسی جرگه خواستار تنفیذ آن است، برگزار خواهد شد. هر چند، بر سر راه روند انتخابات پارلمانی چالش های زیاد و عدیده یی قرار دارد، نبود تنش بر سر قانون انتخابات بین ولسی جرگه و آقای کرزی از مواردی است که بیش از همه در این راستا چالش برانگیز پنداشته می شود. اما با این همه، مسوولان کمیسیون انتخابات، می گویند که آماده گی های این کمیسیون برای برگزاری انتخابات تکمیل و مشکلاتی که بتواند در این خصوص، به اصطلاح حاد و جدی باشد، وجود ندارد. به این منظور، دیروز مرحلهٔ ثبت نام نامزدان به صورت رسمی آغاز شد. به گفته مسئولان این کمیسیون، در نخستین روز ثبت نام، ده ها نفر در کابل و ولایات افغانستان برای نامزد شدن در انتخابات به مراکز ثبت نام مراجعه کرده اند.

این دومین انتخابات پارلمانی در افغانستان خواهد بود که قرار است، در ۲۷ سنبله برابر با ۱۸ سپتمبر برگزار شود.

در همین حال، ادامهٔ ناامنی ها در افغانستان از **ص۳**

ادامهٔ روند اعدام مهاجران افغان در ایران

مسوولان ولایت نیمروزمی گویند که دو جسد اعدام شده گان افغان در ایران را از سوی مرزبانان ایران تسلیم شده اند.

غلام دستگیرآزاد والی نیمروز می گوید: "این دوتبعهٔ افغان به جرم دست داشتن به قاچاق مواد مخدر در زندان های زاهدان و زابل آن کشور اعدام شده اند."

به اساس گفته های والی نیمروز، اعدام شده گان، باشنده گان ولسوالی شیندند ولایت هرات و بکوای ولایت فراه می باشند.

والی نیمروز خاطرنشان کرد که قرار است، تا چند روز آینده، اجساد چندین تبعهٔ دیگر افغان که در ایران اعدام شده اند، تسلیم مسوولان مرزی کشور گردد.

موصوف افزود، در نظر است تا اجساد اعدام شده گان از سوی آمریت نماینده گی وزارت امور خارجه در این ولایت، به خانواده های شان تسلیم داده شوند.

هرچند ساکنان مرزنشین در ولایت هرات ادعا می نمایند که آن ها تا اکنون اجساده ۱۷ تن را دیده اند که از سوی مرزبانان ایرانی به **ص۳**



پر افغانستان بل نړیوال کنفرانس په کابل کې کېږي

د افغانستان او پاکستان لپاره د ولسمشر اوباما ځانګړی استازی ریچارډ هولبروک وايي، د افغان حکومت د ملاتړ لپاره په کابل کې د جولای په میاشت کې نړیوال کنفرانس کېږي. ښاغلي هولبروک ورمه شپه خبریالانو ته په واشنګټن کې وویل، چې په دې کنفرانس کې به د متحدو ایالاتو د بهرنیو چارو وزیره هېلري کلنټن هم برخه اخلي. تمه ده دغه نړیوال کنفرانس به د جولای پر شلمه نېټه د افغانستان په پلازمېنه کې جوړ شي. د ښاغلي هولبروک په وینا دا کنفرانس په دې هیله جوړېږي، چې افغان حکومت سره د نړیوالو د ملاتړ بیا پخلی وشي. د ولسمشر اوباما ځانګړي استازي دا خبره هم تایید کړه، چې ولسمشر کرزی به د مۍ له لسمې نېټې څخه په درې ورځني سفر واشنګټن ته ورځي، چې له بارک اوباما او نورو لوړ پوړو امریکایي چارواکو سره ووینې.

د ښاغلي هولبروک دا څرګندونې په داسې وخت کې کېږي **۳مخ**

په ملکي چارو کې د ناټو استازي مارک سیډویل:

په سیاسي بهیر کې د طالبانو د ورګډېدا ملاتړ کوو

د افغان حکومت د هغو هڅو ملاتړ کوو، چې له طالبانو سره یې د سولې او بیا پخلاینې لپاره پیل کړې دي

په ملکي چارو کې د ناټو استازي مارک سیډویل، د سولې کېدونکې مشورتې جرګه له طالبانو سره د روغې جوړې او د امنیت د ټینګولو لپاره یوه ښه پیلامه وبلله. خو مارک سیډول وویل تمه نه کوي، چې د افغان حکومت د دغو هڅو پایلې ژر ترلاسه شي. افغان حکومت به په نږدې راتلونکي کې په کابل کې د یوشمېر مخورو، سیاستوالو او قومي مشرانو په ګډون د سولې مشورتې جرګه راوبولي. ښاغلي سیډویل په کابل کې خبریالانو ته وویل د روانې اونۍ په ترځ کې به په تایلېنډ کې د ناټو د بهرنیو چارو د وزیرانو په غونډه کې هم د افغانستان په اړه خبرې وشي. په افغانستان کې په ملکي چارو کې د ناټو تر ټولو لوړپوړي چارواکي مارک سیډویل د افغان حکومت د هغو هڅو کلک ملاتړ وکړ، چې له طالبانو او نورو وسلوالو مخالفانو سره د سولې او بیا پخلاینې لپاره یې پیل کړې دي. ښاغلي سیډویل د امنیت د ټینګولو، سیاسي او عادي ژوند ته د طالبانو د بیا را ګرځولو لپاره د سولې د را روانې مشورتې جرګې **۳مخ**

هرات و گسترش روز افزون فساد در این ولایت

در حالی که فساد در سراسر کشور بیداد می کند و حتا در مرکز، مقام های بلندرتبهٔ با مافیای فساد رابطهٔ تنگاتنگ و انکار ناپذیری دارند، دیروز هیأت اعزامی لوی څارنوالی دوتن از کارمندان شاروالی ولایت هرات را به جرم اختلاس ٤۳ میلیون افغانی بازداشت کردند.

رامش یک تن ازڅارنوالان شهری ولایت هرات می گوید که این دو تن، کارمندان شاروالی وشهرسازی این ولایت بوده که به جرم اختلاس ٤۳ میلیون افغانی، بازداشت گردیده اند.

این عضو څارنوالی ولایت هرات، از افشای هویت این دوتن الی تکمیل تحقیقات څارنوالی خودداری نمود. **ص۳**

یک پسر چهار ساله مادرش را کشت

یک مادر از سوی پسرش ذریعه فیر تفنگچه در مربوطات شهرکابل به قتل رسید. مل پاسوال سید عبدالغفار سیدزاده رییس تحقیقات جنایی قوماندانی امنیهٔ کابل گفت که این رویداد شب گذشته در مربوطات شهرکابل رخ داده، اما وی، محل واقعه را مشخص نکرد. وی افزود که به اساس معلومات مقدماتی پولیس، پسر چهار سالهٔ این خانواده با استفاده از تفنگچهٔ دستی پدر، مادرش را مورد هدف قرار داده و مجروح ساخته که در مسیر راه شفاخانه، جان داد. رییس تحقیقات جنایی **ص۳**

اعلان فاتحه

سیدعبدالهادی قطب زاده مشهور به آغا لالا مشاور مرکز مطالعات افغانستان، سید عبدالباری مسوول مالی موسسهٔ CHA، سید عبدالروف آمر مالی و اداری IOM گردیز و سیدعبدالرازق لقمان سکرتر اول سفارت افغانستان در جاپان پسران کاکا، داکتر سیدعبدالوحید مؤظف در شفاخانهٔ عاجل ابن سینا، سیدعبدالحبیب کارمند وزارت امور خارجه، سیدعبدالرشید کارمند اتصالات، سید عبدالخبیر محصل اقتصاد درهند سیدخالد محصل در سویدن نواسه های کاکا. سیدخلیل الله، سید نقیب الله، دگروال سیدعمر، سیدکاظم و سید صلاح الدین خبرنگار رویترز نواسه های عمه. سید حفیظ الله، سیدعبدالقیوم و سید جان کاکازاده ها، مولوی سید حضرت شاه اقا داماد کاکا نسبت وفات سید عبدالرحمن پروانه مدیر مامورین و مدیر حفظ و مراقبت اسبق ریاست دستگاه ساختمانی افغانی که جنازه قبلا در قریهٔ رامک ولسوالی ده یک ولایت غزنی به خاک سپرده شده است، به اطلاع دوستان می رسانند که فاتحهٔ مرحومی به روز پنجشنبه ۲ ثور ۱۳۸۹ از ساعت یک و نیم الی چهار بعد از ظهر در مسجد شیرشاه مینه واقع کارتهٔ چهار گرفته می شود؛ فاتحهٔ زنانه در منزل شان واقع کلوله پشته عقب بلاک های شاروالی برای یک روز گرفته می شود.

انا لله و انا الیه راجعون

ACKU

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

دا د وحشتونو لړۍ به کله پای ته رسي!؟

د افغانستان کړکېچ د اواري لپاره په سلگونو ستراتېژي گانې، کړنلارې، غونډې او کنفرانسونه جوړ او په لسگونو نور په لاره کې دي، دا ټول لگښتونه او منډې ترړې ظاهراً له دې امله کېږي، چې په افغانستان کې حالات ټيک، امن او سوله ټينگه او افغانان بسيا او د هوسا ژوندانه خاوندان شي، خو له بده مرغه، له دې ټولو سره سره، بيا هم د افغانانو په ژوندانه کوم مثبت بدلون نه تر سترگو کېږي، بېوزلي، بېکارۍ، د مافياوو ناروا وې، پر نشه يي توکو اخته کېدل، مهاجرتونه، ځورونې، وژنې او نور د افغاني ټولنې د ژوند ورځنی رسم گرځېدلی، افغان ولس بيا هم يو خوار، دربدره او بې وسه ولس دی، چې څوک يې په يوه او څوک يې په بل نامه وژني، رټي، ځوروي او اعداموي يې. يوازې په دوو تېرو اونيو کې تر ۵۰ زيات افغانان د اعدام د مجازاتو تر نامه لاندې په ايران کې ووژل شول او درې تنه نور وسوځول شول. له دې نه اخوا، د هېواد په دننه کې هم پر دوی باندې تبۍ ښه گرمه ده. تېره اونۍ ناټو ځواکونو د کندهار ولايت په ژېړۍ ولسوالۍ کې د افغان ملکي افغانانو سورلۍ ۳۰۳ بس موټر د خپلو مرميو هدف وگرځاوه او شاوخوا ۲۷ تنه ولسي وگړي يې په وينو کې ولمبول. ورمه ورځ په همداسې ورته پېښه کې ناټو ځواکونو په خوست ولايت کې د يوه ښوونځي څلور ماشومان په بې رحمانه توگه د خپلو ټوپکو په ډزو غلبېل غلبېل کړل.

په هر صورت، دا د افغان د تورې ورځې يو څو بېلگې وې، چې وړاندې شوې. بايد ووايو، چې داسې ورځ نه شته، چې د هېواد په لر او بر کې کومه افغانه کورنۍ د وېر پر ټغر د خپلو عزيزانو پر ماتم نه وي ناسته. د ملکي افغانانو پر مېنو او هستوگنځايونو باندې د ايتلافي ځواکونو بې رحمانه هوايي بمبارۍ، د کورونو تلاشۍ، په بمې او چاودېدونکو توکو د افغانانو د کورونو دروازې الوځلول، د بېگناه او بېوزلو انسانانو نيونه، ځورونه او په سپيو دارنه او دې ته ورته نور وحشتونه او جنايات اوسمهال په افغانستان کې د مېشتو ايتلافي ځواکونو په ورځني عادت او کار بدل شوي. دا ټول هغه څه دي، چې پر افغانانو يې خوب حرام او له ژونده يې بېزاره کړي دي. نړيوال ځواکونه، پېښه د يوې مېږې د مړ گ په شان بولي او په يوه عادي ښښنه او افغان دولت يې د بېواکه او کاواکه کمېسيون پر جوړولو خلاصه کوي. د تېرو اتو کلونو په بهير کې په سلگونو داسې پېښې د بيا بيا لپاره تکرار شوې او دا دی لړۍ يې ښه په کش سره دوام لري، خو تراوسه پورې، نه څوک د مرگ د دغو لارويانو پر نيولو قادر شول او نه هم چا محاکمې ته راکش کړل. د بشري حقونو په نامه نړيوالې خپلواکې ادارې او سازمانونه دا جناياتونه او پېښې يوازې پر شعار ډولو نيوکو او انتقادونو لمانځي او بس. دا چې افغان ولس د خپلې بدمرغۍ او تورې ورځې اسره چېرته او چاته يوسي؟ او ايا داسې مرجع شته چې د دې جنايتونو پوښتنه وکړي، دا هم هغه پوښتنې دي، چې تراوسه چا ورته مثبت ځواب نه دی موندلی. چارواکي د سياسي لوبو او نزاکتونو له امله سپين ته تور او تور ته سپين وايي، د ولس هسې په نوم استازي چې دمگړۍ د ولسي جرگې تر دروازې ها خوا نه شي تېرېدای، هم اوس په دې سياسي لوبو او خپلو مزو او چړچو بوخت دي. نو د خپلو خبرو لنډيز په دې کې رانغاړو، چې افغان ولس له هرې خوا، مايوس او نهيلی شوی، نور هېڅ ته تمه نه لري، د افغانانو په وينو کې دمگړۍ د کرکې او انتقام توپان پر څپو دی، ښايي که نړيوال ځواکونه او افغان دولت دغه نزاکتونه په پام کې و نه نيسي، نو دا ولسي کرکې او احساسات به د يوه پاڅون په بڼه کې راڅرگند او هغه مهال به هر تدبير ناکاره او د پاڅون دغه تونډې څپې به هر څه له ځان سره لولپه کړي!!

د جمهوري رياست،

د ۱۷ تنو کانديدانو د تاييدي رايو پلټل ولې وځنډېدل؟

ميا گل اروال

د بن د غونډې په سوغاتي ديموکراسۍ کې يو شمېر کارونه، چې موږ افغانانو ته راورسېدل په هسې ډولونو بدل شول، چې اوس يې نه د بن د غونډې طراحان په چاره پوهېږي او نه يې په خپله د پوهې خاوندان افغانان.

ديموکراسي په خپل وار او خپل ځای ځانگړی مفهوم او مانا لري، په دې اټکل چې له ديموکراسۍ څخه د هرې ټولنې د ژوند په بهير کې د هماغې ټولنې له دود، دستور، علم او فرهنگ سره سم کار اخيستل کېږي، موږ همدا اوس وينو او گورو چې ډېرې چارې شته، چې هغه به په لوېديځ کې ديموکراسي بلل کېږي، خو زموږ په ټولنه کې ورته د فسق او فساد مفهوم افاده کوي، لکه: بې کچې ازادي، شراب او نشه يي توکي استعمالول او نورې خپلسرۍ. موږ په وار، وار ټينگار کړی، چې د هرې ټولنې ديموکراسي ځانگړی شرايط لري او غواړي يې. که د لوېديځ په شرايطو برابرې ديموکراسۍ ته زموږ په ټولنه کې د عمل جامې اغوستلو لپاره هڅه وشي، موږ به پر هغو بې لاريو سر کړي، چې بيا به يې هېڅ څوک نه شي ايل (مهار) کولای.

يو په دغو سوغاتونو کې هغه ډالۍ ده، چې زموږ نافذ اساسي قانون هم په دريم فصل کې د اتباعو د حقوقو او وجايبو ترسرليک لاندې په (۳۳) ماده کې داسې رانغښتې ده: ((د افغانستان اتباع د انتخابولو او انتخابېدلو د حق درلودونکي دي –له دغه حق نه د گټې اخيستلو شرايط او ډولونه د قانون په واسطه تنظيمېږي.))

د ديموکراسۍ په اصلي مفاهيمو کې دا ښه خبره ده، خو په دې مانا چې څوک بايد د انتخابولو او انتخابېدلو حق ولري، يانې دا چې د انتخابولو او انتخابېدلو اصول بايد ټاکل شوي وي، که څه هم زموږ اساسي قانون او د انتخاباتو قانون هم تر يوه حده په نيمگړي ډول کار کړی او داسې شرايط يې ټاکلي چې هېڅ راز ځانگړتياوې چې ايجابوي يې په کې نه دي په گوته شوي. دا خو هم څرگنده خبره ده، چې دغه شان بې قيده او بې حصره شرايط هر سړی په خپله گټه کاروي، موږ د جمهوري رياست په دوه دورو انتخاباتو کې وليدل، چې په لومړي دور کې ۱۸ تنو کې هېوادوالو او په دويم دور کې ۴۲ تنو د دغه مقام د نيولو لپاره داسې متې راونغښتې، چې که مبالغه نه وي، په علمي او ملي سطحه يې له همدغه امله هېڅ وړتيا نه دلوده. وړتيا څه چې د افسوس خبره وه، چې دغه څېر شخصيتونو پر دغه مقام باندې ريشخند او مسخرې کولې.

د افغانستان په څېر جگړه ځپلي، له علم او پوهې نه محروم ساتل شوي هېواد او ولس يې ولې په داسې لوبو لاس پورې کړ، چې هم يې په ځان ملنډې ووهلې او هم يې دغه تش په نامه راغلې يا راوړل شوې ديموکراسي په نړيواله سطحه د ملنډو کړه. په دغه لړ کې ډېرو داسې هېوادوالو ځانونه نومولي وو، چې د ملي پېژندنې په سطح په خپل کلي، ولس، ښار يا ولسوالۍ کې هم چا نه پېژندل په نړيواله سطح خو يې چا نوم هم نه و اورېدلی. زموم دغه اعتراض ځکه پر ځای دی چې اوس خو ملي او بين المللي مطبوعات هر څه بربنډوي او د چا شخصيت هېڅکله هم په بل راز نه شي تېرېدلی، زه د دغه مقام لپاره دغه گڼ شمېر کانديدان له دوو حالتونو څخه بهر نه بولم، يو دا چې کېدای شي يو شمېر کړيو دغه راز ناوړه شخصتونه د دې لپاره هڅولي وي، چې زموږ د ټولنې د بې علمۍ سطحه نړۍ ته لوڅه کړي، چې دا د دې ټولنې شخصيتونه دي، چې دغه راز لوړ مقام ته يې ځانونه نومولي دي.

بل دا چې دغو کسانو له دغه قانوني حق څخه ناوړه گټه اخيستې وي، د خپل شهرت لپاره يې دغه کار ترسره کړی او په تقلبي ډول يې دومره تاييدي لاسليکونه او د کارتونو نمبرونه راټول کړي وي، چې بيا يې هغومره رايې هم و نه گټلې، چې د هغوی او د دې ولس لپاره دغه کار هېڅکله هم د دوی له نامه څخه نه شي پاکېدلای.

څه موده د مخه د دولت په سطح يو اعلان وشو، چې د ولسمشر لپاره په دغه (۴۲) تنو کې د (۱۷) تنو تاييدي رايې چې ښايي تقلبي به وي، تر څېړنې او پوښتنې لاندې ونيول شي. په دې خبره د ولس هيلې بيدارې شوې چې خدای (ج) دې دولت نه خير ورکړي، چې دغه راز تقلب کاره څېرې رسوا کړي، چې په تقلب سره ځانونه قدرت ته رسوي، نو بيا به د وطن او ولس په سر څه سوداگري نه وي، چې وېې کړي. هيله ده، چې د انتخاباتو د کمېسيون او د شکاياتو د کمېسيون نوی مشر، د هېواد د عدلي، قضايي او پلټنو نورو ادارو په مشرۍ د دوی د پلټنو او ولس ته د تقلب د څرنگوالي او علت په اړه بشپړه اطلاعات په واک کې ورکړي. که دولت په هر کار کې له مصلحت او سترگو پټولو څخه کار واخلي، نو ولس به دولت په دغه راز تقلبونو، درغليو، ټکيو او برگيو کې د خيل وبولي.

له بله پلوه به نړيوال هم موږ ته لکه دا ولس په ډول د شک پر سترگو گوري. که څه هم د ښاغلي کرزي په خبره يو شمېر نړيوال په دغه څېر مسايلو کې ښکېل دي، خو په نړۍ کې هم د حق او رښتينولۍ پلويان شته، د هغوی سترگې او غوږونه کار کوي، نه دا چې موږ يې د خندا او مسخرو وړ شو.

د کندهار عمليات د کوم هدف لپاره؟

د ناټو چارواکي وايي، چې د دوی له لوري د کندهار عمليات به په افغانستان کې د دې ترون ترقوماندې لاندې ځواکونو ترټولو لوی عمليات وي، خو د دې عملياتو هدف دا نه دی، چې طالبان ووژل شي، بلکې اصلي مقصد يې دا دی چې سيمه له ناسمو کسانو پاکه شي او په کندهار کې د رشوتخورۍ او فساد گيلم ټول شي. د ناټو ترون وياند ريچارد نورټن ټايلر وويل د افغانستان ترټولو لويه ستونزه د قوي حکومت نشتوالی دی. د گارډين ورځپاڼې د راپور له مخې په داسې حال کې چې د ناټو قومندانان د کندهار په شاوخوا کې د پراخو عملياتو لپاره تياري نيسي، د دې ترون لوړ رتبه مقامات وايي، چې د دوی د عملياتو يو اصلي هدف دا دی چې د دې سيمې سياسي او ټولنيزې ستونزې اوارې کړي. د ناټو مقامات وايي، چې په کندهار کې د سږکال د دوبي عمليات به په افغانستان کې تراوسه پورې د دوی تر ټولو ستر عمليات وي. په همدې حال کې د طالبانو يوه مهم قومندان چې د کوټې له شورا سره نژدې اړيکې لري، وويل دا ډله په کندهار کې د ناټو ځواکونو د عملياتو پر وړاندې، دې ولايت ته جنگيالي لېږي او د بمي بريدونو پلانونه جوړوي. د ناټو مقامات وايي، دوی په کندهار کې له دغو عملياتو د قومي مشرانو له اندېښنو خبر دي، خو دوی لومړيتوب دې ته ورکوي، چې په دې ولايت کې رشوتخورې او اداري فساد پای ته ورسوي. د ناټو پوځيان چې په هلمند ولايت کې پر پوځي عملياتو بوخت دي، د افغان ځواکونو د روزلو لپاره کافي روزونکي نه لري. د دې ترون وزيران به روانه اونۍ د دې ستونزې په اړه خبرې وکړي، ځکه چې د افغان امنيتي ځواکونو روزنه له افغانستانه د نړيوالو پوځيانو د وتلو لپاره خورا مهمه ده. د ناټو وياند جيمز اپاتورای د لندن د سفر په ترڅ کې وويل، چې د کندهار عمليات په مخکې دي، خو دا عمليات به د قيامت ورځ نه وي، بلکې د کندهار ښار په شاوخوا کې به قواوې متمرکزې شي، چې طالبان په شا وتمبول شي. د تاند وېبپاڼې د راپور له مخې، نن به د ناټو سرمنشي اندريس فوگ راسموسن په بروکسل کې په دې اړه توضيحات ورکړي، چې په کندهار کې د «اميد» په نامه عمليات دا هدف نه لري، چې طالبان ووژل شي، بلکې مقصد يې دا دی چې د کندهار عام ولس وساتل شي. کندهار له روحي او د مواصلاتي نظره د طالبانو زړه بلل کېږي.

ACKU

په افغانستان کې جګړه څنګه...

د کارسرداچې دا دواړه لوري، هم روښانه دي او هم اغېزمن. زياتېدونکي پوځونه، چې امريکا، برېتانيا او نور يې رالېږي، که پرمختګ وکړي ارزښتمن دي. د برېتانيا ژمنتيا به ترهغې پورې په ځای وي، ترڅوچې موږ خپل شريک هدف ترسره کړو. يو داسې افغانستان چې بيا د نړيوال تروريزم د مرکز په ډول د نړۍ په خلاف ونه کارول شي. خو بيا هم، د نوو پلانونو تر ېخې خوشباوره کتنې نه وروسته هم دې پايلې ته رسېږو، چې افغان چارواکي ترهغو پورې د خپلې خاورې د کرارۍ او منل شوې ادارې ورتيانه لري، ترڅو پورې چې بغاوت پخپله کم شوی نه وي او موږ به يوازې په هغه حالت کې خپل پوځونه په باور سره وايستلای شو، چې ېرته راتلو ته مجبور نه يو. زمونږ د پوځونو پراخې هڅې د دې هدف په ترلاسه کولو کې مهم رول لري. څنګه چې جنرال ميک کرېسټل اوس، اوس ويلي: د پوځ رول د دې هڅه کول دي چې حالت داسې جوړ کړي، چې خلکوته دا اجازه ورکړي چې د حکومت جوړولو او چارو چلولو يوه رښتينې حل ته راشي. دا خبره د افغان سياست لويې ننګونه راپورته کوي. هغه ننګونه چې له ډېرې اوږدې مودې ورسره بې پروايي شوې ده.

پر ۲۰۰۱ کال د بُن تړون او ورپسې پروسه کې ديوه رښتينې سياسي توازن کمښت موجود و. شمالي ټلواله بُن ته د افغانستان د نوو بادارانو په ډول راغله، خو دوی د په جنوب کې د پښتون اکثريت په ګډون د افغانستان د لوی نفوس نماينده ګان نه وو. دا سمه وه چې طالبان له بُن نه شړل شوي وو، خو نورو قانوني ډلو ته چې د هغو پښتنو نمايندګي يې کوله، چې د طالبانو اصلي ځواک و، هم په کمه ستر ګه وکتل شول.

د بُن تر کنفرنس وروسته چې کومې دوې جرګې جوړې شوې، هغو هم د هېواد لپاره يوه کلک مرکزي سياسي جوړښت رامنځته کړ. په داسې حال کې چې د دې هېواد خلکو اکثر په محلي کچه د خپلو چارو د سنبالولو او تنظيمولو اوږد تاريخ او خپلې لارې لرلې. له دې نه ورتېر د کابل سياسي جوړښت له هغو قبيلو، غيررسمي دودونو او ټولنمرکزه جوړښتونو سره انصاف هم ونه کړ. فساد ورپسې خبره نوره هم خرابه کړه. د قانون ماتوونکو لاسونو ته د بې حسابه پيسو قبيلوي توازن نور هم له منځه يوړ. په پای کې په لوېديځ کې ايران، په ختيځ کې پاکستان، په شمال کې د مرکزي اسيا جمهوريتونه، سيمه ييز قدرتونه لکه هندوستان، چين، سعودي عربستان، روس او ترکيه، بُن تړون په دې کې پاتې راغی چې د افغانستان دا ټول ګاونډيان سره د يوه نوي او سوله ييز افغانستان د جوړېدو لپاره يوځای کړي. زه چې د افغانستان له تاريخ نه کوم څه زده کوم، هغه دادي چې ترهغه مهاله به په افغانستان کې سوله او ثبات رانه شي چې ترڅو له ډېرو، ډېر خلک په سياسي جوړښت کې رايوځای نه شي او ترڅو چې يې ګاونډيان له واکمن سياسي جوړښت سره په تړون کې نه وي.

پر افغانستان بل نړيوال...

چې په دې وروستيو کې د واشنګټن او ولسمشر کرزي ترمنځ اړيکي ظاهراً خړ شوي وي. خو ښاغلي هولبروک وويل، چې اوس دواړو غاړو ستونزې هېرې کړې دي. ده وويل: ((زموږ او د افغان حکومت ترمنځ اړيکي ښه دي. يو وخت وضعه ښه نه و، خو هغه وخت تېر شوی دی.))

د ولسمشر اوباما خانګړي استازي زياته کړه چې په تېرو څلورو مياشتو کې يې له ولسمشر کرزي سره شپږ وارې ليدلي دي، چې وروستۍ ليدنه يې تېره اونۍ په کابل کې وه. ده وويل، دغه وروستۍ ليدنه يې تر ټولو اوږده او پر مسايلو ډېر غور په کې وشو. ښاغلي هولبروک دا هم وويل چې د کابل تر غونډې وړاندې به په اسپانيا کې هم څلوېښت هېوادونه پر افغانستان خبرې کوي. د بي بي سي د راپور له مخې، د اسپانيا غونډه به د جون پر لومړۍ اونۍ کې وي. د جنوري په مياشت کې دې ته ورته يوه بله غونډه په متحدو عربو اماراتو کې شوې وه، چې په کې د ډېرشو هېوادونو استازيو برخه اخيستې وه.

انتخابات بر مبنای کدام...

چالش های اصلی سر راه برگزاری این انتخابات پنداشته می شود؛ اما مسوولان می گویند، همه تلاشها را به خرج خواهند داد، تا انتخابات در فضای امن برگزار شود.

مسوولان کمیسیون انتخابات می گویند، ساکنان هر ولایت افغانستان، اجازه دارند، در همان ولایت برای شرکت در انتخابات ثبت نام کنند؛ اما به گفتهٔ این مسوولان، کوچی ها (عشایر) از این امر مستثنا هستند و می توانند، در هر ولایتی که خواسته باشند، به عنوان نامزد انتخابات ثبت نام کنند. از شرایط نامزدی برای انتخابات پارلمانی افغانستان، داشتن تابعیت افغانستان، محکوم نشدن به ارتکاب جرایم ضد بشری از سوی محکمه و داشتن سن حداقل ۲۵ سال تعیین شده است.

نداشتن ارتباط با گروه های مسلح غیرمسوول نیز از دیگر شرایط نامزدی برای انتخابات پارلمانی افغانستان است.

قانون انتخابات:

کمیسیون انتخابات می گوید، دو هفته را برای ثبت نام نامزدان اختصاص داده است و پس از آن، کمیسیون رسیده گی به شکایات وقت دارد، تا به ادعاها و شکایاتی که علیه نامزدان مطرح می شود، رسیده گی کند. به هر صورت، این مراحل در حالی آغاز می شود که هنوز جنجال ها بر سر قانون انتخابات میان مجلس نماینده گان و حکومت افغانستان حل نشده است.

مجلس نماینده گان قانون جدید انتخابات را دو بار رد کرده، اما حکومت با توجه به قانون اساسی و اینکه شورای ملی نمی تواند، در آخرین سال کاری خود فرامین تقنینی رییس جمهور را تعدیل کند، قانون جدید را اجرایی اعلام کرده است.

مجلس سنای افغانستان نیز از قانون جدید حمایت کرده است. سخنگویان حکومت می گویند، تا زمانی که هر دو مجلس پارلمان - سنا و مجلس نماینده گان - قانون را رد نکرده اند، این قانون براساس فرمان تقنینی رییس جمهور توشیح شده و اجرا می شود.

اما منتقدان می گویند، هر قانونی در افغانستان قبل از آنکه به اجراء گذاشته شود، باید از تصویب مجلس نماینده گان بگذرد.

یک پسر چهار ساله...

ولایت کابل می افزاید که در رابطه به قضیه، شوهراین خانم را که ساتنمن قوماندانی امنیهٔ ولایت پروان می باشد، دستگیر و تحت بازداشت پولیس قرار دارد. این در حالی است که یک ماه قبل نیز، پولیس از ساحهٔ حوزهٔ هشتم شهر کابل یکتن را به ظن قتل خانمش دستگیر نموده بود.

ادامهٔ روند اعدام ...

مسوولان مرزی کشورتسلیم داده شده است، اما مسوولان مرزی کشور از تسلیم شدن چهار جسد خبرمی دهند که در ایران اعدام شده بودند.

اخیراً بحث اعدام مهاجران افغان در ایران، سروصداهای زیادی را میان اعضای پارلمان و حلقات سیاسی در کشور به راه انداخته است که سخنگوی وزارت امور خارجه درهفتهٔ گذشته اعلام نمود، هیأتی به منظور رسیده گی به این مسأله تعیین گردیده است، تا به ایران سفر نموده و قضایا را از نزدیک مورد بررسی قراردهند.

هرات و گسترش روز افزون...

عنایت الله کمال معاون لوی خارنوالی کشور و رییس هیأت اعزامی به این ولایت می گوید : "هدف از سفر آن ها به این ولایت، بررسی ارگان های اداری، نظامی به منظور چگونگی موجودیت و میزان فساد اداری، وضعیت زندانیان و معارف می باشد."

با اینکه گفته می شود، ولایت هرات از نظرفساد اداری به تناسب سایر ولایت های کشور در فیصدی پایینی قرار دارد، اما شهروندان این ولایت از افزایش فساد اداری و کاغذ پراگنی در نهادهای این ولایت، شکایت دارند.

به گزارش خبرگزاری روز، این درحالی است که هیأتی از جانب لوی خارنوالی کشور به ریاست عنایت کمال معاون لوی خارنوالی به ولایت هرات اعزام گردیده است، تا کارهای اداری و امنیتی در این ولایت را از نزدیک مورد بررسی قرار دهند.

درهمین حال گفته می شود که قرا راست، هیأت متذکره از ولایت های باغیس و فراه نیز، دیدار نموده و نحوهٔ کار مسوولان این ولایات را نیز، مورد بررسی قرار دهند.

ربوده شدن هشت کارمند...

انتقال داده شده اند."

اما ذبیح الله مجاهد که خود را سخنگوی طالبان مسلح معرفی می نماید، ربودن کارمندان این شرکت را از سوی طالبان مسلح رد می نماید.

گفتنی است که شرکت ساختمانی کریم شریفی مصروف اعمار یک پل در قسمت سرک رحمت بای در ولسوالی علی آباد این ولایت است.

سرک رحمت بای در ولسوالی علی آباد ولایت کندز موقعیت داشته که ولسوالی چهاردره را با این ولسوالی وصل می سازد.

این درحالی است که هفتهٔ قبل نیز، ۵ تن از کارمندان دفتر سازمان ملل در افغانستان در مربوطات ولایت بغلان ربوده شده و از سرنوشت آنان تا اکنون معلوماتی در دست نیست. هرچند شماری از آگاهان به این باوراند که گروه طالبان مسوول این گروگان گیری ها می باشند؛ اما ذبیح الله مجاهد سخنگوی طالبان می گوید که افراد آنان کارمندان دفترنماینده گی سامان ملل را اختطاف نکرده اند.

په سياسي بهير کې د طالبانو...

په اړه خوشباوري وښووله، خو زياته يې کړه چې د دغو هڅو د سملاسي پايلو د ترلاسه کېدو هيلې نه لري.

نوموړي وويل، دغه مشورتي جرګه طالبانو ته له افغان حکومت سره د سولې د خبرويوه ښه دروازه پرانيزي:

دا د هغوی لپاره ښه چانس دی چې بايد ترې ګټه واخلي. بل دا چې دا ډېره مهمه ده چې ټولو افغانانو داد ورکول دي چې د طالبانو سره د بيا پخلاينې او خبرو اترو په برخه کې د هغو وړانديزونه او غوښتنو ته پام کېږي."

په پام کې ده چې افغان حکومت له طالبانو سره د سولې د خبرو د څرنګوالې په اړه د يو شمېر سياستوالو، قومي مشرانو او د ټولنې د يو شمېر مخورو په ګډون په کابل کې د سولې يوه مشورتي جرګه جوړه کړي.

د جرګې ګډونوال به افغان حکومت ته له طالبانو او نورو هغوو سره د خبرو د څرنګوالې په اړه مشورې او لاښوونې ورکړي.

د ناټو ملکي استازي چې په کابل کې خبريالانو ته غږېده، دا هم وويل چې د ناټو غړي هېوادونه به راتلونکې اونۍ په تايلينډ کې افغان حکومت ته دواک د لېږدولو په اړه خبرې اترې وکړي.

په پام کې ده چې د ناټو په دغه کلنۍ غونډه کې د افغانستان د بهرنيو چارو وزير او د غه هېواد لپاره د ملګرو ملتونو خاص استازی هم ګډون وکړي.

په غونډه کې به د نورو موضوعګانو ترڅنګ افغان حکومت ته د واک د لېږدولو او دغلته د سياسي حالاتو په اړه خبرې اترې وشي." د بي بي سي د راپور له مخې، افغان حکومت پر نړيوالو بسپنه ورکوونکو تل دا نيوکه کوي، چې د دوی له سلا مشورې پرته بيا رغنېزې چارې مخ ته وړي.

په ملکي چارو کې د ناټو د دغه استازي د دندې مهمه برخه هم همدغه ده، چې نظامي او ملکي چارې سره همغږې کړي.

مارک سيډويل وويل له دې وروسته به د افغان حکومت او بهرنيو مرسته کوونکو ترمنځ د ګډې همغږۍ لارې کارونه ترسره کېږي.

ملي امنيت د ديني مدرسو فعاليتونه څاري

د افغانستان د استخباراتو اداره وايي، چې له دې وروسته به د ديني مدرسو چارې تر څار لاندې راولي، د دغې ادارې چارواکي وايي، چې له دې کاره يې موخه دا ده، چې دغه مدرسې د اورپکو په روزنتونونو بدلې نه شي.

دغې ادارې دا رنګه په کابل کې د هغو ځانمرګو بريدکوونکو د يوې سترې ډلې د نيولو خبر هم ورکړی، چې وايي غوښتل يې په دغه ښار کې ځانمرګي بريدونه وکړي.

دا په څه نا څه دوو اونيو کې دويم ځل دی چې افغان امنيتي ځواکونه د ځانمرګو ډلو د نيولو خبره کوي، چې په وينا يې دغه ډلې په کابل د بريدونو د ترسره لپاره استول شوې وې.

دغه وروستۍ نهه کسيزه ډله د شاوخوا ۲۰۰ کيلو ګرامه چاودېدونکو توکو، وسلو او په لسګونو لاسي بمونو سره نيول شوې ده.

د افغانستان د ملي امنيت د ادارې وياند سعيد انصاري وايي، چې په دوی کې يو کس پاکستانی او پاتې نور يې هغه افغانان دي چې کلونه، کلونه يې په پاکستان کې تېر کړي دي:" په دغه ډله کې هغه ترهګر او ځانمرګي بريد کوونکي شامل دي، چې غوښتل يې يو ځل بيا په کابل کې هغه شان بريدونه وکړي، چې پخوا يې د انصاري په څلور لارې کې ترسره کړي وو."

ډېرې دغه نيونې د سيد بهايي جان اغا په مدرسه کې شوي، دغه مدرسه د کابل ښار نه په لږڅه لرې پرته سيمه کې ده.

د دغې مدرسې يو ښوونکی او يو تن زده کوونکی تورن پېژندل شوي دي.

دا مهال داسې هم ويل کېږي، چې د اورپکو مشران له ديني مدرسو نه د خپلو ترهګريزو هڅو لپاره کار اخلي.

د افغانستان د استخباراتو د ادارې وياند وايي، چې همدغو اندېښنو ته په کتو دوی پتېيلې چې د دغو مدرسو د څارنې او کنترول لپاره يو لړ هڅې پيل کړي:"دغه مدرسې د امنيتي او اطلاعاتي ادارو له خوا تر څار لاندې راځي دارنګه چې موږ د دغه شان څېړو په بربنډولو کې پخوا هم برياوې لرلې همدغه شان به په راتلونکي کې هم پر همدغو مدرسو تسلط ومومو، چې په راتلونکي کې د ترهګرو ډلو سره د ځوانانو د يوځای کېدو مخه ونيسو."

د بي بي سي د راپور له مخې، نن سبا په ټول افغانستان کې سلګونه مدرسې پرانيستل شوي، چې په ډېرو کې يې د افغانستان د دولتي ښوونيز نظام پرته زده کړې کېږي. يو شمېر دغه ديني مدرسې په هغو ناامنو سيمو کې هم شته چې دولت نه شي کولای پر هغوی څار او نظارت ټينګ وساتي.

طالبانو د کندهار مرستيال ښاروال ووژه

د کندهار ښاروالۍ مرستيال عزيز الله يارمل ورمه شپه وسلوالو په ډزو سره ووژه. نوموړی هغه مهال ووژل شو، چې ورمه ورځ ماښام د کندهار ښار لومړۍ ناحيې د سدوزو په جومات کې پر لمانځه بوخت و. کندهار ولايت د مطبوعاتي دفتر مشر زلمي ايوبي د عزيزالله يارمل وژنه د هېواد د دوښمنانو کار وباله. هغه د وژل کېدو خبر د کندهار امنيه قوماندانۍ هم تاييد کړی دی. وړاندې هم طالبانو نوموړي ته د مرګ ګواښ کړی و. د عزيزالله يارمل د وژل کېدو پړه وسلوالو طالبانو پرغاړه اخيستې.

بلخوا ورمه شپه له دې بريد سره هممهاله د کندهار د امنيه قوماندانۍ مرستيال محمد شاه فاروقي پر کور هم بريد شوی، خو چا ته په کې مرګ ژوبله نه ده اوښتې. ورمه ورځ هم په کندهار کې دوې چاودنې وشوې، چې په لومړۍ هغې کې د پوليسو يو مامور په کې ټپي او په بله کې د دوو پوليسو په ګډون څلور ولسي وګړي ټپي او درې ووژل شول. وژل شوي ټول ماشومان وو. د بي بي سي د راپور پر بنسټ، د تېرې فبرورۍ پر ۲۴مه هم د کندهار ښار په دويمه ناحيه کې د دغه ولايت د اطلاعاتو او کولتور رييس عبدالمجيد بابی ناڅرګندو وسلوالو وژلی و.

افراد ناشناس مجسمهٔ امیرعلی شیر نوایی را قسماً تخریب کرده اند

مجسمهٔ امیرعلی شیرنوایی شاعر و نویسندهٔ زبان های ترکی و فارسی که در جشن نوروز سال جاری، از طرف حزب جنبش ملی اسلامی در شمال شرق روضه در مزارشریف اعمار شده بود؛ شام گذشته از طرف افراد ناشناس قسماً تخریب گردید.

ذبیح الله کارگر، منشی عمومی شورای مرکزی جوانان جنبش گفت که شام گذشته، افراد ناشناس مجسمهٔ امیر علی شیرنوایی را قسماً تخریب کرده اند. موصوف تخریب مجسمه نوایی را کار پلان شده دانست؛ اما از کدام گروه نام نبرد.

کارگر گفت: "مجسمهٔ نوایی در حالی قسماً تخریب می گردد که پولیس در چند قدمی آن قرار دارد، پس معلوم می شود که این یک کار پلان شده بوده است." موصوف ریاست اطلاعات و فرهنگ را مقصر دانست که چرا از مجسمهٔ نوایی حفاظت نکرده است. به گفتهٔ وی، این ریاست وظیفه دارد که از چنین آثار حفاظت نماید.

ذبیح الله کارگر تخریب مجسمهٔ نوایی را به شدت محکوم کرد و آنرا کار دور از تحمل همه مردم بخصوص فرهنگیان خواند.

ACKU

په افغانستان کې جګړه څنګه پای ته ورسوو؟

ډیویډ میلبنډ (د برېتانیا د بهرنیو چارو وزیر) **ژباړه: رحیم الله بشارت**

په افغانستان کې جګړه نه برېتانیا پیل کړې، نه امریکا. په ۱۹۹۰لسیزه کې د دې هېواد د طالبانو دولت القاعدې ته د اوسېدو لپاره یو محفوظ جنت او ملاتړ ورکړ. په بدل کې یې اسامه بن لادن طالبانو ته پیسې او جنګیالي تیار کړل. افغانستان د سپتمبر د یوولسمې د بریدونو د پلان جوړونې پر ځای بدل شو. د دې بریدونو په ځواب کې نړیوالې مداخلې په نړیواله کچه ډېر پوره ملاتړ درلود. خو د دې مانا دا نه ده چې زموږ پوځونه به د تل لپاره دلته وي. اته کاله وروسته، موږ اړیو چې د دې پلان جوړ کړو، چې څنګه به دا پای ته رسېږي ـــ څنګه به هغه څه ساتوچې ترلاسه کړ ي مو دي او څنګه به جنوبي اسیا له هغه ناوړه نفوذ نه ژغورو، چې موږ ټول به اغېزمن کړي.

د پرمختګ لار د لانجې د سولې او جګړې د سیاست د مرکزیت په پېژندو پورې اړه لري. له مرګونو او ټولوژنو سره مل کوم خطرناک تېری (تشدد)چې دې جګړې پیل کړی دی، سیاست به یې پای ته رسوي.

د افغانستان لپاره یوسیاسي جوړښت باید دوه اړخونه (بعدونه) ولري. لومړی، یو نوی او ښه پراخ دننني (داخلي) برابری (جوړښت) په کوم کې چې افغانان پوره برخه ولري او مرکزي دولت دومره ځواک او قانونیت ولري چې هېواد له داخلي او بهرنیو ګواښونو وساتي. دویم، په کوم چې لومړنی هم منحصر دی، او هغه داچې یو نوی بهرنی جوړښت چې ګاونډیان دې ته ژمن کړي، چې د افغانستان د ازادۍ او ځمکنۍ بشپړتیا درناوی وکړي او دومره ځواک او ملاتړ هم ولري، چې د دې ډاډ ترلاسه شي، چې دوی په خپله ژمنه ولاړ پاتې کېږي.

برېتانیا د ۱۸۳۹او ۱۹۱۹ترمنځ په افغانستان کې درې ځله جنګېدلې ده. هرځل دا جنګونه په برېتانوي هندکې د برېتانیا د ځواک په مرکز او اقتصادي ګټوپورې تړلي وو. هر ځل دوی غوښتل چې دلته خپل واک ټینګ کړي، خو له دې ځای نه د پوځونو په شاکولو ته اړ ایستل شول. هرځل دا ایستل له ډېروونو توپیدو سره مل وو، چې اخر د برېتانیا د شاهي کورنۍ ستراتیژیستان په دې لټه کې شول چې ځان په امن کې وساتي، یو معقول او اوږدمهالی فکر دا و چې یو خپلواک، خپل ځواک (پولیسي ځواک) خو په مرستو متکي افغانستان، چې د قبیلو ترمنځ انډول یې برابروي او د برېتانوي هند امنیت ته ګواښ پېښ نه کړي.

د پخواني شوروي اتحاد ستراتیژي جوړوونکي هم، همدې ته ورته یوې پایلې ته ورسېدل، کله چې پر ۱۹۸۹ کال شوروي پوځونه له افغانستانه ووتل او د کمونیست نجیب الله حکومت یې ترشاپرېښود، چې تر درېیو کلونو ژوندی پاتې شو او بیا له منځه لاړ، د کرملین د نصیحت الفاظ چې،، کمیونیزم هېرول، سوشلیزم پرېښودل، اسلام ته غېږ خلاصول او له قبیلو سره کارکول،، د نوي تاریخ د هر رژیم په څېر د نجیب الله رژیم هم له بهرنیومرستو پرته ونه پایېده. او هغه وخت را وپرځېده، چې د بوریس یلتسن نوې ازادې شوې پر کابل ټولې مرستې ودرولې.

په ۱۹مه پېړۍ کې د برېتانیا تجربه او په شلمه کې د شوروي اتحاد هغه ښیي، چې د افغانستان د باثباته کولو ښه لاره او کېدای شي یوازینۍ لاره داده، چې پخپله افغانان قوي کړل شي چې بیاخپل په خپلو کلیو او درو باندې واکمن هم واوسي او امنیت هم راولي. د دې د ترلاسه کولو لپاره افغانان له بهر نه پوره سیاسي او پوځي ملاتړ سخاوت مندانه اقتصادي مرستو ته اړتیا لري. خو افغانان به په خپله خاوره کې زمونږ مجادلوي پوځونوته له اړتیا، د امنیت د ډاډ، د دوی د خپل واک د پراخولو په لاره کې له مرستې پرته، نه اړتیاولري او نه به هر کلی ووایي. پر ۱۸۴۲کال له کابل نه د برېتانوي پوځونو د خوني وتلو په هکله یو تازه مطالعه ښیي، چې لامل یې د دې پوځونو د ټیټ پوړو چارواکو له خوا خپلو جګپوړو هغو ته د هغه بد حالت د حقیقت ویلو کې زړه نازړه توب و، چې برېتانوي پوځونه ورسره مخ وو. زه هم د هغو ډیپلوماټانو او د میدان له قوماندانانو سره له خپلو خبرو نه پوهېږم، چې هغه «خوږې خبرې» نورې د نن خبرې نه دي. داخبره چې افغانستان سمې لارې ته روان دی، هغه رښتیادي چې له ځمکې لاندې شوي دي. دلته نور داسې حقیقتونه شته چې زه یې وینم:

- افغانان له ډېرش کلونو جګړو ستړي کړي دي، دوی جګړو، د بنسټیزو حقونو او شونتیاوو نشتوالي اغېزمن کړي دي. اکثریت یې د طالبانو له ظلمونو او تېریو کرکه لري. خو بیا هم کله دوی هغوی ته له ظالمانو جنګسالارانو او قانون ماتوونکو نه د دوی د ساتونکو په ډول ګوري.
- افغان دولت چې حامد کرزی یې مشري کوي، د خپلو خلکو د غوښتنو، ځواکمنو جنایتکارانو او د اقتصادي ګټو د ځان کوونکو، او نړیوالې ټولنې له مخالفتونو او فشارونو سره مخ دی، خو په ده کې د حکومت کولو وړتیاکمه ده. د ده په اړه اندېښنې له تېرو ټاکنو راپه دې خواژورې شوي دي، کومې چې له پراخو درغلیو او د رشوت له تورونو سره ملګرې وې. دا اندېښنې د سیاسي نظام د جوړښت له پلوه هم دي.
- افغان بغاوت پراخ، خو د ملګرتیا او اړیکو، جغرافیوي مرکزونو او تکتیکونو له پلوه کمزوری دی. طالبان د طالبانو د تېررژیم د مشرانو له خوا رهبري کېږي چې مشري یې ملاعمر کوي او د پاکستان په سرحدي سیموکې مرکز لري. د حقاني نیټورک او حزب اسلامي په ګډون ځینې نورې ورې ډلې هم په عملیاتو کې برخه لري. دا ټولې ډلې د خلکو په نه باور او دولت په کمزورۍ پایي.
- له طالبانو اوس هم کرکه کېږي، یوه نوې نظرپوښتنه ښیي، چې یوازې ۶سلنه افغانان د دوی د واک بېرته راتګ غواړي. خو اوس دوی داسې ورې جنګي ډلې منظمې کړې دي، چې په جنوب، ختیځ او شمال کې له محدود ملاتړ نه خوند اخلي او د دې وړتیالري، چې دکابل په ګډون هرچېرته عملیات ترسره کړي.
- د القاعدې هغه مشران چې له افغانستان نه تښتېدلي دي، د پاکستان په قبایلي سیمو کې پټېږي. د دې مشرانو یوه لویه برخه وژل شوي یانیول شوي دي. سره له دې چې القاعده له طالبانو سره د اړیکو اوږد تاریخ لري، خو د دوی ملګرتیا تر ډېره بریده تکتیکي او سیمه ییزه ده. تر اوسه القاعده د دې وړتیا(ظرفیت) لري، چې په نورو هېوادونو، لکه یمن کې د خپلو ملګرو او شریکانوپه مرسته په نړۍ کې مرګوني بریدونه وکړي.
- په تېرو اتلسو میاشتو کې په پاکستان کې د اصف علي زرداري د دیموکراتیک حکومت په راتګ سره څه بدلونونه راغلي دي. حقیقت دادی چې سیمه ییز تروریزم پوځي او وسیاسي مشران له یوه نوي هدف سره مخ کړي دي او ددوی په خلاف یې سره موافق کړي دي، دا خبره اوس ریالیستیکه ده چې د پولې په دواړو خواوو کې پر وسلوالو دفشار پر غورځولو باندې کار وشي. په وروستیو اته کلونو کې افغانه او نړیواله ستراتیژي په دې باندې متمرکزه وه، چې د دولت لوېې دندې سمې او د افغانانو په ژوند کې مثبت بدلون راولي. که څه هم دا لاره له خنډونو او ځنډونو ډکه ده، خوبیاهم ځینې لاسته راوړنې شته. د پنځه میلیونه مهاجرو بېرته ستنېدنه، کېدای شي په خپل حفاظت، امنیت او پرموږ باندې چې دوی ته مو ساتلي دي، د باور د زیاتېدو ترټولو لویه نښه وي. نظر پوښتنې ښیي چې د امنیت نشتوالی اوس هم د خلکو پر وړاندې ترټولو لویه ستونزه ده. تېر کال په بریدونو کې له تېرو ټولو کلونو په پرتله زیات خلک وژل شوي دي.

پر ۲۰۰۳ کال د افغان ملي اردو شمېر له دوه زره نه کم و. اوس له ۱۰۰،۰۰۰ زیات دی. خو نژادي توازن او په ځانګړي ډول د پښتنو برخه په کې کمزورې ده. شمېر به یې درېیمه برخه د دې کال ترپایه او نور په راروانو کلونو کې زیات شي. افغان پوځیان اوس د لومړۍ کرښې د مبارزې تجربې ترسره کوي، چې ښه بېلګه یې په هلمند ولایت کې اوسني مشترک عملیات وو او د دې لپاره پلانونه جوړېږي، چې افغان امنیتي ځواکونه، سیمه ییز حکومتونه او نورې ادارې د اغېزمنتیا یوې مناسبې کچې ته ورسېږي، نو افغان پوځ به ولسوالۍ په ولسوالۍ او ولایت په ولایت د امنیت د مشرۍ دنده پر غاړه واخلي. څومره چې افغان پوځ پیاوړی کېږي، نړیوال ځواکونه به د دې وړ وي چې له عملیاتو نه په شاشي او ځای دوی ته پرېږدي، خو بیابه هم دوی ته اړتیاوي چې دخپلو افغانو سیالانو (افغان ملي اردو) د روزنې او لارښوونې چارې د څو کلونو لپاره روانې وساتي. د پوهنې او روغتیا په هکله، پر ۲۰۰۱ کال یوازې یومیلیون افغان ماشومان ښوونځي ته تلل، چې هغه هم یوازې هلکان وو. سږکال هیله لرو، چې یو میلیونه ماشومان به ښوونځیو ته لاړ شي، چې درېیمه برخه به نجونې وي. له لسو نه اته افغانان روغتیاساتنې ته لاسرسی لري.

دکوکنارو کر او د نشه یي توکیو سوداګري افغانستان ته لویه ستونزه ده. خو په تېرو دوو کلونو کې د تریاکو په حاصل کې لوی کمښت راغلی دی: ۱۹٪ پر ۲۰۰۸ کال او ۲۲٪ پر ۲۰۰۹ کال. د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو د مخنیوي دفتر وایي چې پر ۲۰۱۰ کال به د تریاکو حاصل زیات نه شي. په امنیت او حکومتدارۍ کې پرمختګ او ورسره د غنمو لوړ قیمتونه، د دې پایلو په ترلاسه کولو کې مرسته کړې ده.

د ملي پیوستون د پروګرام چې د محلي او سیمه ییزو حکومتونو د پرمختګ لپاره پیل شوی و، لاسته راوړنې به په دې هېواد کې یوه په زړه پورې کیسه وي. له ۲۰۰۳ راهیسې د ۲۲،۰۰۰ کلیو شوراګانې د کلیوالو له خوا د رایو له لارې ټاکل شوې دي. دوی یوازې نژدې ۴۰،۰۰۰ پرمختیایي پروژې ډیزاین کړې، بلکې پلې کړې یې هم دي او اوس له ښکته نه پورته خواته یانې د ولسوالیو شوراګانو ته راځي.

داسې برخې هم شته چې هلته کوم د یادولو وړ پرمختګ نه دی شوی، موږ د دې اندېښنو د لرې کولو په لور ګامونه اخلو او افغان دولت اړ دی چې په دې هلکه ډېر څه وکړي لکه:

- انصاف، قانون او نظم راوستنه د جنګ یو رښتینی میدان دی. د افغان ملي پولیسو شمېر نژدې ۱۰۰،۰۰۰ تنه دی، خو لویه خبره د څومره والي (کمیت) نه ده، د څنګه والي (کیفیت) ده. د دې ځواک ځینې برخې د نشه یي توکو پر سوداګرۍ بوخت دي. همدارنګه ډېری یې نالوستي دي، د جنایتکارو او یاغیانو ملاتړي دي او یا رشوت اخلي. افغان دولت د ریفورم یو پراخ او لرې رسېدونکي پروګرام پیلوي. خو دولت اړتیالري، البته زموږ په مرسته، چې یو دجنایي او ولسي شخړو د اوارولو لپاره غیررسمي عدالتي جوړښت رامنځته کړي. دا ټول هغه څه دي چې اکثره وخت یې افغانان د قانون حاکمیت ګڼي.

د ملي پیوستون د پروګرام له بریالیتوب سره، سره، ولسي اداره له ګرانو هڅو وروسته هم دیوې بېخي لویې ستونزې په ډول په ځای پاتې شوه. د هېواد په لرې پرتو سیموکې د ولسوالیو په کچه حکومت نه شته؛ نیم ولسوالان یو دفتر هم نه لري. له څلورمې برخې کم یې برېښنا لري او ځینې یوازې د میاشتې شپږ ډالره د لګښت لپاره ترلاسه کوي. د راروانو دوه کلونو لپاره نړیوالې ټولنې ژمنه کړې چې ۱۲،۰۰۰ دولتي کارکوونکي وروزي چې د ولسوالیو په کچه کاروکړي. • په پای کې داچې، دلته د فساد ستونزه ده. په جنوري کې د بي بي سي، ای بي سي، او ای ارډي له خوا د ترسره شوې یوې نظرپوښتنې له مخې ۹۵٪ افغانان فساد ته د هغوی د سیمې د یوې لویې ستونزې په سترګه ګوري. په ځینو سیموکې په منځني ډول هر افغان په کال کې ۱۰۰ډالره دولتي چارواکو ته د رشوت په توګه ورکوي. نو دومره پراخ خپور فساد ژورې ریښې لري. ولسمشر کرزي ژمنه کړې چې د فساد مخه ونیسي او داسې ازادې ادارې رامنځته کړي چې دا ستونزه وڅاري او مخه یې ونیسي. نړیواله ټولنه به د هغه په عمل قضاوت کوي، نه د هغه پر خبرو. مرسته ورکوونکي به هغه ته د دولت له لارې د مرستو د لګولو شونتیاوې له ډېر و ازمویلو وروسته د هغه په لاس ورکوي. د بېلګې په ډول د وزیرانو او نورو لوړپوړیو چارواکو د شتمنیو ښکاره کول او ثبتول، د لوړپوړیو چارواکو د ټاکلو په برخه کې د نوې کړنلارې رامنځته کول او د فساد د له منځه وړلو لپاره د یوه پراخ قانون جوړول. د تېرو اته کلونو لاسته راوړنې زموږ د پوځونو د مېړانې او نه ستړې کېدونکو هڅو نه پرته شونې نه وې، له دوی پرته به بغاوت افغان دولت لاندې کړی او کېدای شي په کابل یې واک چلولی وای. زموږ د پرمختګ کارونه به ودرېدلي او له منځه تللي وو او القاعدې به ډېره سیمه لاندې کړې وای او د تروریزم بې رحمانه پلانونه به یې جوړولای. ۳مخ

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پښتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
ګزارشګر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین: نبي "پیاوړی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت،
سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi “Paiwarry”
Address: Behind Baree kout-cinema, first
street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com

ACKU